د Auburn ښوونځي ولسوالی د زده کوونکو د نوملړ (ډایرکټری) د معلوماتو محرم ساتلو فورمه

د زده کوونکو ریکارډونه د قانون له مخې شخصي دي

فدرالي قانون د ښوونځیو ولسوالی له دې منع کوي چې د زده کوونکو په دوسیو یعني فایلونو کې موجود معلومات پرته له والدینو/سرپرست د اجازې افشا کړي. یوازې د زده کوونکو د نوملړ معلومات له دې څخه مستثنی دي. د زده کوونکو د نوملړ معلومات د کورنۍ د تعلیمي حقونو او د محرمیت قانون (Family Educational Rights and Privacy Act of 1974 (FERPA) له مخې افشا کېدای شي. د ښوونځیو ولسوالی د زده کوونکو د نوملړ معلومات د سوداګریزو موخو لپاره نه افشا کوي.

د نوملړ (ډایرکټری) معلومات څه دي؟

د زده کوونکي نوم
د کور پته
د مور یا پلار/سرپرست نوم(نومونه)
د مور یا پلار/سرپرست تلیفون شمېره(یا شمېرې)
د مور یا پلار/سرپرست بریښنالیک پته
د ټولګي کچه
د نوم لیکنې نېټې (په اوسني یا پخوانیو ښوونځیو کې)
د زده کوونکي د ښوونځي بریښنالیک پته
ترلاسه شوي تحصیلي سندونه او جایزې
په رسمي ډول منل شویو فعالیتونو او سپورتونو کې ګډون
د سپورتي ټیمونو د غړو وزن او قد
عکسونه

د نوملړ معلومات شخصي ساتل

والدین کولی شي د دې فورمې ډکولو له لارې د زده کوونکي د نوملړ معلومات شخصي وساتي. معلومات به لاندې کسانو یا ادارو ته افشا نه شي:

- بهرني سازمانونه
- د پوځ د ګمارنې استازي
- د لوړو زده کړو اداري
- هر ډول پیغام یا اړیکه چې عامو خلکو یا رسنیو ته رسېدای شي
- د ښوونځي کلنی کتاب
- د فراغت د مراسمو برنامه
- د ولسوالی/ښوونځي خبرپاڼه چې ټولو والدینو او/یا کارکوونکو ته استول کېږي
- هغه خپرونې چې د ولسوالی کارکوونکو ته ځانګړې شوې وي
- د داخلي یا خارجي لیدلو لپاره ویډیوګاني
- د ښوونځي ویب پاڼه، د ولسوالی ویب پاڼه یا ټولنیزې رسنۍ
- د PTSA مخابرات
- د عامه زده کړو د سرپرست دفتر (چې د لوړو زده کړو د لاسرسي د موخو لپاره دا معلومات کاروي)

که تاسو نه غواړئ چې ستاسو د زده کوونکي د نوملړ معلومات افشا شي نو مهرباني وکړئ د نوملړ د معلوماتو د محرم ساتلو فورمه بشپړه او لاسلیک کړئ او بیرته یې دې پتې ته واستوئ:

Vicki Alonzo, 915 4th Street N.E., Auburn, WA 98002 یا لاسلیک شوې کاپي یې دې بریښنالیک ته واستوئ:

.valonzo@auburn.wednet.edu

که تاسو د ښوونځي ولسوالی ته د زده کوونکي د نوملړ د معلوماتو افشا کولو اجازه ورکوئ، نو تاسو د دې فورمې بشپړولو ته اړتیا نه لرئ.

AUBURN SCHOOL DISTRICT
ENGAGE • EDUCATE • EMPOWER

د Auburn ښوونځي ولسوالۍ
د زده کوونکو د نوملړ د معلوماتو د محرم ساتلو فورمه

که تاسو د ښوونځي ولسوالۍ ته د زده کوونکي د نوملړ د معلوماتو افشا کولو اجازه ورکوئ، نو تاسو د دې فورمې بشپړولو ته اړتیا نه لرئ.

که تاسو د ښوونځي ولسوالۍ ته د زده کوونکي د نوملړ د معلوماتو افشا کولو اجازه نه ورکوئ، نو دا فورمه د روان تعلیمي کال د اکتوبر په **23مه یا له هغې مخکې** د اړیکو اجرائیوي رئیس ته وسپارئ، حتی که تېر کال مو فورمه سپارلې هم وي. (هغه زده کوونکي چې نوم لیکنه یې **د اکتوبر له 23 نېټې وروسته ترسره شي، کولای شي دا فورمه د نوم لیکنې نېټې څخه دوه اوونیو کې دننه وسپاري.)**

مهرباني وکړئ د خپل کور د هر زده کوونکي لپاره جلا جلا فورمه وکاروئ. اضافي فورمې ستاسو د زده کوونکي په ښوونځی کې شتون لري.

که تاسو دا پرېکړه وکړئ چې له ښوونځي ولسوالۍ وغواړئ چې د عامه خپرولو یا ولسوالۍ د کارونې څخه معلومات محرم وساتي نو مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې ولسوالۍ به د فدرالي، ایالتي، یا قانون نافذولو اړتیاوو پرته بل هیڅ دلیل له مخې ستاسو د زده کوونکي په اړه هیڅ معلومات افشا یا خپاره نه کړي.

مهرباني وکړئ چاپ یې کړئ:

د زده کوونکي لومړی نوم _____ **د زده کوونکي وروستی نوم** _____

د زده کوونکي ښوونځی _____ **ټولګی** _____

☐ **زه د ښوونځي ولسوالۍ څخه غواړم چې زما د زده کوونکي د نوملړ معلومات شخصي وساتي**

د مور یا پلار/سرپرست لاسلیک _____ **نېټه** _____

د مور یا پلار/سرپرست چاپ شوی نوم _____

مور یا پلار/سرپرست باید لاسلیک وکړي، پرته له دې چې زده کوونکی 18 کلن یا زیات کلن وي.